مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۴/۳۰

# ولي د خلكو په سترګو كي خاوري پاشو؟

نن مي په آريانا افغانستان ويبسايټ كي د محترم داكتر صاحب عثمان تره كي يو لنډمضمون ولووست چي پر افغانستان باندي د پاكستان هوايی حملي يې غندلي وې. ښاغلي ډاكټر تره كي د افغانستان پر هوايی حريم باندي د پاكستان حملي د هغه هيواد د پوځ اخلاقي سقوط بللی وو او ګيله يې كړې ده چي هغه هيواد د افغانستان پر ملكي تا سيساتو او پوهنتونونو باندي حمله كوي او د دې كار علت يې د طالبانو د رژيم پوځي كمزوتيا بللي ده.

محترم تره كی صاحب طالبانو ته توصيه كوي چي ځانونه له بين المللی انزوا څخه وباسي او خپل دفاعي توان تقويه كړي او بيا نو خپل زور په حق تبديل كړي.

محترم تره كي صاحب ته بايد ووايم چي موږ هيڅ وخت نه دي ويلي چي طالبان دي له پاكستان څخه پوځي انتقام واخلي او مخامخ دي جګړې ته ورسره ودريږي. افغانستان، په تېره د طالبانو حكومت، په هيڅ توګه دا توان نه لری چي د پاكستان سره مخامخ جګړی ته ودريږي. موږ وايو چي طالبان دي، لږترلږه، د اعتراض ږغ پورته كړي، په راډيو او تلويزيون كي پر نړۍ باندي ږغ وكړي او كه دا نه كوي يا يې نه سي كولای نو د پاكستان يرغلګر پوځ اوحكومت ته خو دي ورور نه وايي.

د ښاغلي تره كي صاحب د مضمون هدف تر ډېره ځايه دا دی چي كه افغانستان نظامي قوت درلودلای نو په هغه صورت كي به پاكستان پر افغانستان باندي د حملو كولو جرأت نه سو كولای.

زه له تره كي صاحب څخه پوښتنه كوم چي افغانستان په كوم وخت كي له پاكستان سره پوځي سيالي كولای سوای؟ افغانستان هيڅ وخت د پاكستان په پنځمه او حتی لسمه برخه پوځي قوت نه وو درلودلی. پاكستان د خپل برتر پوځي طاقت تر څنګ د سينټو او سيټو غړی هم وو او غربي نړۍ هم حساب وربانديٍ كاوه.

مګر دا خو زموږ او ستاسي د زماني خبري دي. د اعليحضرت محمدظاهرشاه په زمانه كي او يا د شهيد داوود خان په زمانه كي د افغانستان پوځي طاقت له پاكستان سره برابر وو؟ تاسي ته يو وخت په ياديږي چي پاكستان د افغانستان پر حريم باندي يا ځكمنی او يا هوايی تيری كړی وي؟

افغانستان، له خپلي ټولي پوځي او اقتصادي كمزوری سره، د پاكستان په مقابل كي دفاعي موقف نه بلكه هر وخت تعرضي موقف درلودی. د پښتونستان لپاره يې راډيويی پروګرام درلود. د پښتو نستان جشن يې لمانځه او د پښتونستان بيرغ يې پورته كاوه. په كابل كي يې د پښتونستان په نوم واټ درلود. د شمالي آزاد پښتونستان او د جنوبي محكوم پښتونستان سياسي مشران به يې هر وخت پر سترخوان ناست ول. له خان عبدالغفار خان څخه نيولي تر خان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزي بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليرلو مخكي په خير و لولـئ

عبدالصمدخان، ولي خان،محمودخان، اجمل ختک او . . . پوري ټولو سیاسي مشرانو په کابل کي سیاسي تبلیغات کول او د قبایلو په مستقل ریاست کي یې یوه لویه مهمانخانه هم ورته جوړه کړې وه.

د بلوچستان آزادي غوښتونکي، غوث بیزنجو، شیرمحمدمری، خیربخش مری، عطاؤالله خان منګل نه یوازي کابل ته راتلل او سیاسي مېلمانه به وو بلکه هم یې منظمي تنخواوي اخیستلې او هم به یې لا سپکي وسلي ورسره وړلی.

په کابل کي، د پښتونستاني ماشومانو او ځوانانو لپاره د خوشحال خان ختک په نوم مکتب، لېسه او لیلیه فعاله وه او هر کال له دغي لېسی څخه جرمني ته د عالي تحصیلاتو لپاره لایق زده کوونکي لېږل کېدل.

ستاسي په یادېږي چي کوم افغان دي د پاکستان په خاوره کي د افغانستان پر ضد نظامي یا سیاسي مرکز جوړ کړی وي؟ ( د مرحوم عبدالحي حبیبي قضیه استثنی ده)

علت څشي وو؟ یوازینی علت یې دا وو چي افغانستان یو مشروع او با حیثیته قانوني دولت درلود. د هیواد هروګړی، نر او ښځه له خپلي خاوري څخه دفاع ته حاضر وه او د پاکستان پلار پر افغانستان باندي د پوځي تېري زړه نه سوکولای.

تر څو چي د خلقیانو او پرچمیانو په وخت کي د افغانستان د دولت قانوني شیرازه ونړېده. پاکستان د افغانستان د دولت په مقابل کي سیاسي مخالفین نه بلکه، د مجاهدینو او په وروسته کي د طالبانو په نوم، خپل غلامان وروزل او نن په هیواد کي د پاکستان د غلامانو حکومت دوام لري. که دا غلامان حتی اتومي قدرت هم ولري هم به د خپل پنجابي بادار په خدمت کي وي.

طالبانو ته توصیي مه کوی. طالبان په هرڅه پوهیږي. هرڅه په شعوري ډول کوي. خپل اولس او خپلو منورینو ته خواست وکړی او د پنجاب له غلامانو څخه د نجات لوری ورته پیدا کړی. بیا نو زه تضمین کوم چي هیڅ قدرت به پر افغانستان د تېري جرأت ونه کړي.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف](#)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ